مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۳/۰۱۴

# وهابيان څوک دي؟

اتمه برخه

## محمدبن عبدالوهاب او سعوديان:

د ابن عبدالوهاب کارونه تر يو څه وخت پوري، د ده له غوښتني سره سم، پر مخ روان ول او د عينيه د حکمران عثمان بن احمد بشپړ ملاتړ ورسره وو. د محمدبن عبدالوهاب د وروستيو اقداماتو څخه شکايتونه د احساء او قطيف د حکمران سليمان بن محمد بن عزيز حميدی تر غوږه ورسېدل. د احساء حکمران، چي په شاوخوا کي يې تر نورو قبيلوي مشرانو او حکمرانانو ډېر زيات قوت درلود، د عينيه حکمران عثمان ته اطلاع ورکړه چي يا به محمدبن عبدالوهاب وژني او يا به يې له خپلي سيمي څخه شړي او که نه وي نو د هغه د ټولو مځکو ماليات به ورباندي بند او ورڅخه واخلي. د عينيه حکمران ځو ورځي ځنډ وکړ مګر کله چي دوهم خبرداری ورته ورسېدی نو له ابن عبدالوهاب څخه يې وغوښتل چي د احساء له حکمران له د مقابلي توان نه لري او نور د ده ساتنه نه سي کولای. ابن عبدالوهاب ورڅخه وغوښتل چي د خپلو مالونو د اخيستلو اجازه ورکړي او ځو تنه سپاره د لاري د امنيت په خاطر ورسره کړي. عثمان هم ورسره ومنله او ابن عبدالوهاب د هغه له قلمرو څخه درعيه ته ولاړ.

د درعيه د حکمران محمدبن سعود، چي د عُنيزه په نوم لويی او غښتلي قبيلي سره يې تعلق درلود، د کورنی له غړو سره يې تماسونه ټينګ کړل او ويل کيږي چي د محمدبن سعود د مېرمني له لاري يې هغه ته د ملګرتوب بلنه ورکړه. د درعيه حکمران هم د ده دعوت قبول کړ او له لومړی ورځي يې ژمنه سره وکړه چي سياست او قدرت به د ابن سعود په کورنی کي ميراثي وي او مذهبي چاري به د ابن عبدالوهاب کورنی ته سپارلي کيږي. دا ژمنه تر نن ورځي پوري عملي سوې ده. محمدبن عبدالوهاب په تقريباً يوه کال کي د درعيه د ټولو خلکو ملاتړ تر لاسه کړ. هلته يې يو جومات جوړ کړ او خلکو ته يې وويل چي که څوک د جماعت لمانځه ته حاضر نه سي هغه ته به سزا ورکړه سي.

محمدبن عبدالوهاب د محمدبن سعود په مرسته د احساء له حکمران سره ځو جنګونه وکړل او بالاخره يې د نجد زيادتره سيمه ونيوله او آل سعود ته يې تسليم کړه.

دا نوې فرقه ډېر ژر د رياض له شيخ دهم بن دواس سره مخامخ سوه، چي د ۲۸ کالو راهيسي يې پر هغه سيمه باندي حکومت کری وو. ابن سعود او د هغه زوی، چي په وروسته کی يې ډېر بريالي پوځي عمليات وکړل، په پرله پسي حملو کي، چي ځيني يې بريالی او ځيني يې ناکامي وي، بالاخره رياض ونيوی.

ابن سعود په ۱۷۶۵ کال کي وفات سو او پرځای باندي يې عبدالعزيز بن سعود وټاکل سو. محمدبن عبدالوهاب بيا هم د وهابيانو د قلمرو د شيخ په حيث پاته سو. عبدالعزيز ډېر ژر مکي ته يو هيات واستاوه او د مکي له شريف السرور سره يې مذاکرات پيل کړ. د مکي شريف په لومړي سر کي له هيات سره ښه سلوک وکړ؛ او خپلو علماوو ته يې وظيفه ورکړه چي د محمدبن عبدالوهاب دعوت له حنبلي مذهب سره مقايسه کړي. خو په وروسته کي د شريف او د عبدالعزيز تر منځ، چي حتماً يې بايد سياسي ريښه درلودلي وي؛ او شريف پر خپل قدرت ببرېدلی وي، اختلافات راغلل چي په وروسته کي همدغو اختلافاتو د غربيانو په تېره بيا انګرېزانو د مداخلو او جاسوسيو لپاره لاره هواره کړه.

ضمناً محمدبن عبدالوهاب په ۱۷۷۳ کي له کاره ګوښه سو او د هغه څلورو زامنو، حسين، عبدالله، علی او ابراهيم، چي ټولو د خپل پلار په څېر ځانونه رسولي ول، د مذهبي چارو رهبري پر غاړه واخيسته. محمد بن عبدالوهاب تقريباً شل کاله وروسته په ۱۷۹۲کال کي د ۸۹ کالو په عمر وفات سو.

په هغه وخت کي د عربو سيمي او هيوادونه له مصر څخه تر بغداد پوري ټول د عثماني ترکيي تر کنټرول لاندي وه. د بغداد پاشا عثماني ترکيي ته خبر ورکړ چي وهابيانو ټولي سيمی ته خطر متوجه کړی او هيڅ سيمه په امان کي نه ده. عثماني ترکيي هغه ته هدايت وکړ چي له وهابيانو سره مخامخ جګړه وکړي. د بغداد پاشا په خپل ټول قوت له وهابيانو سر ه جنګ ته حاضر سو مګر چنداني سوبه يې ونه کړه او له وهابيانو سره د تړون لاسليک کولو ته مجبور سو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنی د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د مکي نوي شريف غالب هم د لويديځ له لوري حملې پيل کړې مگر سوبه يې ونه کړه. مخکې مو وويل چې وهابيانو په ۱۸۰۲ کال کې پر کربلا باندې حمله وکړه او په دې توګه هغه ترون مات او بې نتيجې سو چې مخکې د عراق له پاشا سره لاسليک سوی وو.
د عبدالعزيزو قواوو په ۱۸۰۳ کال کې پر مکه باندې حمله وکړه او شريف غالب يې تېښتې ته مجبور کړ. وهابيانو د مکې په ښار کې ټول هغه زيارتونه او هغه شيان چې د دوی په عقيده د شرک نښې وې وران کړل او هغه کسان يې اعدام کړل چې د دوی په عقيده يې د غير اسلامي شيانو پالنه کوله. د همدغه کال د نومبر په مياشت کې عبدالعزيز د يوه شيعه له لوري، چې ويل يې د وهابي عقايدو پيروي کوي، ووژل سو. د ده پر ځای باندې يې زوی سعود قدرت ته ورسېدی. سعود تر ۱۸۰۶ کال پورې مکه، مدينه او جده ټول يو په بل پسې ونيول. د وهابيانو وروستې پوځي عمليات ټول بريالي ول او د عثماني دولت سره يې اندېښنه پيدا کړه. عثماني دولت د مصر والي محمدعلي پاشاته اجازه ورکړه چې د دې ستونزې چاره وکړي. محمدعلي پخپله د قواوو رهبري پرغاړه واخيسته او په ۱۸۱۳ کال کې يې پر وهابي قواوو باندې حمله وکړه مگر د عبدالعزيز په مقابل کې يې ماته وکړه او دا لښکرکښي ګواکې بې نتيجې ختمه سوه. د ۱۸۲۴ کال د مې په مياشت کې عبدالعزيز بن سعود يو ناڅاپه وفات سو او دا ځکه د وهابي حکومت لپاره يوه مهلکه ضربه وه چې د هغه زوی او وليعهد عبدالله د خپل پلار په څېر نه غښتلی جنرال او نه ښه سياستمدار وو.
محمدعلي دا ځل په ۱۸۱۶ کې پر وهابي قواوو باندې بله حمله وکړه او په ۱۸۱۸ کال کې يې قواوې د وهابي حکومت مرکز درعيه ته ورسېدلې او د هماغه کال په سپتمبر کې يې درعيه ونيوله. عبدالله بن عبدالعزيز تسليم سو. د محمدعلي پاشا جنرال ابراهيم پاشا هغه استانبول ته واستاوه او عثماني حکومت اعدام کړ. په دې توګه، د يو څه وخت لپاره، حکومت د آل سعود د کورنۍ له لاسه ووت.
د ۱۸۱۶ څخه تر ۱۹۰۱ پورې د حجاز قدرت د رشيد د کورنۍ په لاس کې وو او د سعود کورنۍ د کويټ شيخ ته پناه وړې وه. په دغه کال عبدالعزيز بن عبدالرحمن بن سعود، د ډېرو لږو قواوو سره، پر رياض باندې يوه ناڅاپي حمله وکړه او ښار يې ونيوی. تر ۱۹۲۱ پورې يې د رشيد د کورنۍ ټول مستملکات ونيول او د ۱۹۲۱ کال د نومبر په مياشت کې يې د رشيد د کورنۍ مرکز الحايل ښار ونيوی او د رشيد د کورنۍ حاکميت ته يې رسماً خاتمه ورکړه. په ۱۹۲۴ کې يې مکه ونيوله. د ډسمبر په مياشت کې يې مدينه ونيوله او په ۱۹۲۵ کې يې جده واخيسته. په دې توګه د سعود کورنۍ تر ۱۹۲۵ کال پورې ټول حجاز تر کنټرول لاندې کړ.
Shorter Encyclopedia of Islam, Wahabia

## له وروستيو پېښو څخه مخکې حوادث:

له وروستيو حوادثو څخه مخکې، په عربي نړۍ او نړۍ واله سطح يو لړ جدی تحولات راغلي وه چې بايد يو ځغلند نظر ورته وکړو. د دغو پړاوونو چې په لومړۍ نړۍ واله جګړه کې د عثماني امپراطورۍ د قطعي ماتې په نتيجه کي عثمانی حکومت دونه کمزوری سو چې د متحدينو هر ډول شرايطو منلو ته يې غاړه ايښودله. د جنګ له پيل کېدلو څخه مخکې هم، د عثماني سلطنت پخوانی زور پاته سوی نه وو او د ۱۹۰۸ کال د جولای پر دريمه د ځوانو ترکانو انقلاب د هغه هيواد امپراطور سلطان عبدالحميد مجبور کړی وو چې اساسي قانون ومني او پارلمان را وبولي. په ترکيه کې دا وروستي انقلاب په عربي هيوادونو کې، چې له څو سوو کلونو راهيسی د ترکيې تر لاس لاندې ول، د ملي شعور د ويښېدلو سبب سو.
په ۱۹۱۳ کال کې د عربي سيمو منورينو او سياستمدارانوپه پاريس کې د عربو د لومړني کانګريس په نامه يوه غونډه وکړه او يوه سلسله غوښتنې يې مطرح کړې. د خپلو سيمو لپاره يې، د عثماني امپراطورۍ په دننه کې، زياته خودمختاري وغوښته او په خپلو هيوادونو کې يې د عربي ژبې تدريس او تعليم او تربيې غوښتنه وکړه. دغه راز يې وغوښتل چې عربان عسکر بايد د سولې په وختونو کې په عربي هيوادونو کې خپل عسکري خدمت وکړي او يوازې د جنګونو په وخت کې بهر ته ولېږل سي. او د عثماني امپراطورۍ په کابينه کې لږترلږه درې تنه عرب وزيران شامل وي.
لړ وروسته لومړۍ نړۍ وال جنګ پيل سو او عثماني ترکيې د جرمني په ګټه په جنګ کې برخه واخيستله. هغو عربانو چې له ډېرې مودې يې د ترکيې تر استبداد لاندې ژوند کړی وو د يوه لوی تحول راوستلو لپاره زمينه برابره وليده او د يوه پاڅون لپاره يې تياری پيل کړ. د مکې د شريف، حسين بن علي مشر زوی عبدالله په مصر کې د برتانيې د جنرال کونسل هربرټ کيچنر Herbert Kitchener سره اړيکې ټينګ کړل.
د مکې د شريف مقام، چې د يوه عمومي ناظم حيثيت يې درلود، د عباسيانو د خلافت له اوږدې دورې څخه بيا د مصر د ايوبيانو او مملوکو سلطانانو څخه نيولې تر عثماني امپراطورۍ پورې، د حسين بن علي په کورنۍ کې ميراثي وو. حسين بن علي په ۳۷ مه سلسله ځان پيغمبرص ته رسوي. کيچنر عبدالله ته ليکلي وه چې که حجاز په دغه جنګ کې د برتانيې ملاتړ وکړي نو برتانيه به د حجاز خپلواکي تضمين کړي او د ټولو خارجي قوتونو، په تېره بيا ترکيې، په مقابل کې به يې دفاع وکړي. حسين وويل چې حجاز سمدستي خپل اړيکې له عثماني دولت سره نه سي شلولای.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

یو کال وروسته، د ۱۹۱۵ کال د جولای څخه د ۱۹۱۶ کال تر مارچ پوري، د یوه کال په موده کي د حسین او په مصر کي د برتانیي د عالي کمیشنر Sir Henry McMahon مک موهن ترمنځ لس مکتوبونه، یعني له هري خوا پنځه مکتوبونه سره تبادله سول. حسین د ۱۹۱۶ کال د فبروري په میاشت کي له مک مهون څخه وغوښتل چي برتانیه دي حجاز ته ۵۰۰۰ زره پونده، وسلې، مهمات او خوراکي مواد برابر کړي. حسین ادعا کړې وه چي په لږ وخت کي به ۱۰۰ زره تنه لښکر برابر کړي. مک مهون د ده ټولي غوښتني ورسره ومنلې.
حسین ۵۰ زره لښکردرلود خو تر ۱۰ زره لږ ټوپکونه ورسره وه. د ۱۹۱۶ کال د جون پر پنځمه د حسین دوو زامنو علي او فیصل پاڅون پیل کړ او په مدینه کي یې د عثماني ترکیې پر عسکري قشلې باندي حمله وکړه. حسین خپلو عسکرو ته امر وکړ چي په مکه کي هم د عثمانیانو پر قشلې باندي یرغل وکړي. څرنګه چي عثمانیانو د حجاز د عسکرو په مقابل کي له توپخاني څخه کار واخیست نو د مکي ښار او پخپله د کعبې حرم ته یې تاوانونه واړول او د حجاز لپاره یې د عثمانیانو پر ضد، چي په جنګ کي یې د مقدس حریم بې احترامي کړې او اور یې ورباندي بل کړی وو، د تبلیغ زمینه برابره کړه. برتانیې په دغه وخت کي د خپلو جاسوسانو یوه لویه ډله، چي په هغوی کي لارنس Thomas Edward Lawrence لارنس هم، د یوه ځوان افسر، په حیث شامل وو، حجاز ته واستوله. لارنس په تقریباً ټولو مهمو جنګونو کي مستقیمه برخه واخیستله او په ډیرو جنګونو کي یې بری په برخه سو. له همدغو جنګونو څخه د لارنس شهرت پیل کیږي او په ډېره ځواني کي یې دبرتانیې د حکومت له لوري القاب، مډالونه او عسکري ترفیعات ترلاسه کړل او تر اوسه د عربو په لارنس مشهور دی. لارنس نه یوازي یو تکړه او مسلکي جاسوس وو بلکه یو زړه ور عسکر او ضمناً یو تکړه او سترګه ور لیکوال وو. لارنس د عربو په سیمه کي د خپل ماموریت او پخپله د عربو په باره کي ډیري لیکني وکړې. د لارنس له یوه یادداشت څخه د اسلامي نړۍ په باره کي د ده او د لویدیځي نړۍ نظر ښه څرګندیږي.
« که د ترکیې سلطان له منځه ولاړ سی، نو بیا به خلافت، د مسلمانانو په عمومي خوښې او توافق د پیغمبر په کورنۍ کي پاته سي، چي استازی یې د مکي شریف، حسین دی. د حسین فعالیتونه زموږ لپاره ځکه ګټور دي چي زموږ له اهدافو سره، چي مطلب مو د اسلامي بلاک ټوټه پارچه کول دي او د عثماني امپراطوری ماتول دي، سم روان دي. او هغه دولت چي حسین به یې وروسته جوړکړي زموږ لپاره دونه بې ضرره وي لکه اوس چي ترکیه ده. که د عربو هیوادونه زموږ له پلان سره سم وچلیږي نو دوی به داسي سیاسي ترکیب جوړ کړي چي او له داسي دولتونو څخه به جوړ وي چي تل به له یوه بل سره په جګړه لګیا وي او هیڅ ډول به په یوه اتفاق نه سي او البته بیا به هم د خارجي قوې په مقابل کي یوځای کېدلو ته تیار وي » Dreyfuss, Devil’s Game P 41
په همدغه وخت کي د نجد حکمران عبدالعزیز بن سعود هم د عثماني ترکیې په مقابل کي، چي له لویه سره یې دښمني ورسره وه، پاڅون پیل کړ. البته ابن سعود هم د نجد څخه د دفاع او هم یې د حجاز د نیولو او د سعودي عربستان د متحد کولو خیال درلود او کله کله به یې پر حجاز باندي حملې هم کولې. برتانیې په دغه وخت کي له حجاز او نجد دواړو سره ځکه مرستي کولې چي دواړه د عثماني ترکیې پر ضد جنګېدل. دې کار نه یوازي ډېره لویه نظامي ګټه درلوده بلکه د سیاسي او مذهبي تبلیغ لپاره هم ګټه ورڅخه اخیستل کېدله. عثماني ترکانو د برتانیې او د متحدینو په مقابل کي جهاد اعلان کړی او حتی په هند کي یې د برتانیې پر ضد مسلمانان پارولي ول. مګر برتانیې د عربو د پاڅون په وسیله نړۍ ته ښودله چي عربان د دوی پرخوا دي او دا جنګ په هیڅ توګه د جهاد مفهوم نه لري.
د جنګ په جریان کي، د ۱۹۱۵ کال د نومبر څخه د ۱۹۱۶ کال د مي تر میاشتي پوري، د څلورو هیوادونو برتانیې، فرانسې، روسیې او ایتالیې خارجه وزیرانو پټي غونډي وکړې څو د جنګ له ختمېدلو او د عثماني ترکیې تر ماتېدلو وروسته دا امپراطوري سره ووېشي. دا موافقتنامه د برتانیې د خارجه وزیر سایکس او د فرانسې د خارجه وزیر پیکوټ په نوم یا د سایسکس پیکوټ تړون وبلل سو. څرنګه چي د برتانیې قوت تر نورو زیات وو نو لویه برخه هغه هیواد ته ورسېده:

۱: له بغداد څخه، د کویټ په شمول، د فارس د خلیج تر ساحل پوري سیمه به د برتانیې تر مستقیم کنترول لاندي وي.
۲: اوسنی شمالي عراق، اوردون، د نیګیو صحرا تر سینا پوري به د برتانیې د نفوذ سیمه وي.
۳: هغه ساحلي سیمه چي له جنوبي لبنان څخه د شمال پلو ته د میرسین، اسکندرون او ادانه پوري غځېدلې ده او مستقیماً اناتولیه ته رسیږي. دا به د فرانسې تر مستقیم کنټرول لاندي وي.
۴: څلورمه برخه، چي د سوریې صحرا په بر کي نیسي، د فرانسې د نفوذ سیمه وي.
۵: پنځمه برخه، چي په هغه کي د عثماني امپراطوری بیت المقدس او سنجک شامل دي، چي د تاریخي فلسطین شمالي برخه وه. دا به د خپل مذهبي اهمیت له مخي بین المللي سیمه وي. خو برتانیې ته به د اکرا او حیفا کنټرول ورکول کیږي.

په موافقتنامه کي د روسیې په برخه کي راغلي وه چي د روسیې تزار به پخپله په استنابول کي برخه ولري. د باسفورس د آبنا په ګاونډ کي به مځکي ونیسي او د اناتولیې په ختیځ کي به د روسیې له سرحد سره څلور ولایتونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

واخلي. یونان ته د ترکیې د غربي سواحلو کنټرول ورکړه سوی وو. او ایټالیې ته د ترکیې د جنوب لوېدیځ سیمي کنټرول وررسېدلی وو.
کله چي د روسیې د تزار دوهم نیکولاس حکومت، د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر د انقلاب په نتیجه کي، نسکور سو نو بلشویکانو د دغي موافقتنامي نقل په ارشیف کي پیدا کړ. د لینین ملګري لیون تروټسکي د موافقې متن د روسیې د ایزویستیا په ورځپاڼه کي خپور کړ او دایې وښودله چي لویو قدرتونو څرنګه، د جنګ په نتیجه کي، ترکیه سره وېشلې وه.
لینین د سایکس پیکوټ تړون د استعماري غلو موافقه وبلله. د دې موافقې خپرېدلو د برتانیې او فرانسې سیاسي حیثیت ته سخته صدمه ورسوله.
د جنګ له ختمېدلو سره له حسین سره د برتانیې علاقه هم ځکه مخ پر کمېدلو سوه چي حسین د سایکس پیکوټ تړون ونه مانه او له انګرېزانو سره یې د هغوی پخوانۍ وعدې یادي کړې. څرنګه چي برتانیې له مخکي څخه هم د نجد له حکمران عبدالعزیز بن سعود سره اقتصادي او پوځي مرستې جاري ساتلي وې او ابن سعود د برتانیې له پالیسیو سره چنداني مخالفت نه وو ښودلی نو خپله توجه یې د هغه خواته واړوله. د مکې شریف، حسین ته یې چي یې په کال کي دوه میلیونه سترلینګ پونډه سبسیدي ورکوله په څو میاشتو کي یې ۳۰ زره ته ورسوله او بالاخره یې وربانديي بنده کړه. بده خو لا دا چي د برتانیې عالي کمیشنر حسین ته پېشهاد وکړ چي که د فلسطین په خاوره کي د اسراییلو د دولت جوړېدل ورسره ومني نو په عوض کي به ۵۰ زره سترلینګه پونډه ورکړي. حسین دا پېشنهاد خپل ځانته سپکاوی وباله او ورته ویې لیکل چي زه به څرنګه د فلسطین په خاوره کي د صهیونیستانو دولت د پیسو په بدل کي منم.
برتانیې هم خپلي ټولي مرستې وربانديي بندي کړې او د مکې حکمران یې پر سپین میدان پرېښود. عبدالعزیز بن سعود په لږ وخت کي د حجاز ټولي سیمي لاندي کړې او په ۱۹۲۴ کي یې مکه او په ۱۹۲۵ کي یې مدینه ونیوله. انګرېزانو عراق د حسین مشر زوی فیصل ته ورکړ. اوردون یې د هغه بل زوی عبدالله ته ورکړ او پخپله حسین یې مالټا ته تبعید کړ.
لارنس، چي ټول عمر به د حسین له زوی فیصل سره، لکه سیوری ملګری وو، یو وخت فیصل ته ویلي وه چي ټوله تکیه پر خپل قوت او اراده وکړي او، د خپل پلار په څېر، زموږ په وعدو ونه غولیږي. ما د خپل حکومت د پالیسی په خلاف، هغه ته د سایکس پیکوټ د تړون په باره کي معلومات ورکړي وه او هغه ته مي ویلي وه چي که عربان زما له نقشې سره سم عمل وکړي د هغوی په برخه کي به هیڅ ډول یو طرفه فیصله ونه سي.
Lawrence, Seven Pillars of Wisdom, P 355
انګلیسیانو، چي د عربستان په خاوره کي یې دواړو رقیبو قدرتونو ته خپل مهم جواسیس لېږلي ول، غوښتل دواړو خواوو ته دا وښیي چي د هغوی له نقشو سره مخالفت او د هغوی د ګټو په مقابل کي حرکت د دواړو په تاوان دی. یو وخت چي د مکې شریف حسین او د هغه زامنو فیصل او عبدالله د ترکیې قواوو ته مځکه سور اور کړې وه پر حسین باندي د نغدو او طلایي پونډونو باران جوړ کړی وو او هر راز وسلې او مهمات یې ورکول. او په مقابل کي یې عبدالعزیز بن سعود ته په هغه اندازه توجه نه کوله او حتی یو وخت یې، په دې پلمه چي د هغه پوځي عملیات د حسین په قلمرو کي د لارنس عملیاتو او نقشو ته صدمه رسوي خپلي پوځي مرستې کمي کړې او نیژدې وو چي ابن سعود د خپلو رقیبانو په مقابل کي ماته وخوري. ابن سعود فیلبي ته وویل چي انګلیسیانو په داسي وخت کي پر ده باندي پوځي او مالي مرستې بندي کړې چي دی خپل هدف ته رسېدلو ته نیژدې سوی وو. دی به اوس خپل پوځیانو او په تېره بیا اخوان ته څه جواب وایي او څرنګه به هغوی ته په خپلو هغو پخوانیو دلایلو قناعت ورکوی چي نصارا اهل کتاب دي او له دوی سره د مشرکینو په ځپلو کي مرسته کوي.Philby, P 232
ابن سعود داسي څوک نه وو چي د ګټلي جګړې میدان دي خپلو رقیبانو ته خوشي کړي او سره له هغه چي د برتانیې له خوا یې د مرستو د مطلق بندېدلو پېش بیني کوله پر خپل مټ او زور باندي تکیه وکړه او بیا یې هم له شریف حسین څخه مځکي لاندي کولې. دا هغه وخت وو چي د برتانیې او حسین تر منځ اختلافات څرګند سوي وه او برتانیې ولیدل چي ابن سعود په زور کي دی او پرله پسې له حسین څخه مځکي لاندي کوي. بیرته یې خپله توجه د ابن سعود خواته واړوله او حسین یې تسلیمېدلو ته مجبور کړ.
په سعودي عربستان کي د ابن سعود د مطلقه قدرت دوران پیل سو. تر یو څه وخته پوري د ابن عبدالوهاب د کورنۍ او د آل سعود تر منځ د پخوا په څېر اړېکو دوام درلود. ټولي هغه چاری چي له مذهب او په اجتماعي امورو کي یې له دین سره ارتباط درلود د ابن عبدالوهاب کورنۍ اداره کولې او د دولتي امورو سره یې غرض نه درلود. خو کله چي دولت ورځ په ورځ په داخل کی ریښې ټینګولې او له بهرنیو هیوادونو، په تېره بیا غربي نړۍ سره، چي د دوی د قدرت د ټینګېدلو اساسی او لوی عامل وو، روابط پراخېدل؛ او د دې ترڅنګ د سعودي عربستان عایدات ورځ په ورځ مخ پر زیاتېدلو سول په هغه اندازه د سعودي دولت د قدرت پله درنېدله او د ابن عبدالوهاب د کورنۍ، چي یوازي د مذهبي چارو اداره یې پر غاړه وه، د قدرت پله سپکېدله.
د هغه عمومي قانون په اساس چي وایي مطلقه قدرت د فساد عمده عامل دی؛ د سعودي عربستان په اداره کي هم ډېر ژر فساد پیل سو. آل سعود د سعودي عربستان له خاوري او عایداتو سره د شخصي او پلرني ملکیت په څېر سلوک پیل کړ. نه یوازي یې سلطنت او په هغه پوري مربوطي اداري خپلي کړې بلکه وروسته یې د وزارتونو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ترڅنګ نوري مهمي اداري هم ځوانو او حتی ماشومو شهزاده ګانو ته ووېشلي ځکه چي د کورنی د شهزاده ګانو، چي پلرونو به یي هر یوه له څلورو او زیاتو مېرمنو څخه تر شلو زیات شهزاده ګان زیږولي ول، شمېر په لړ وخت کي تر زرو زیات سو.
شهزاده ګانو، چي د وهابیانو د لومړنیو تبلیغاتو په خلاف یي، په بهرنیو ملکونو برتانیه او امریکا کي تحصیلات کړي وه، د نویو غوښتنو سره، پر هیواد باندي هجوم راووړ. قصرونه او ویلاوي ی آبادي کړي؛ او د هغو منظمو تنخواوو او امتیازاتو ترڅنګ یي، چي له سعودي دولت څخه یي ترلاسه کول نورو عایداتي منابعو ته هم لاره پیدا کړه. نور نو وهابیان کونج ته سول او یوازي د محتسبینو وظایف او د قرآن شریف او وهابي کتابونو د چاپولو او خپرولو وظایف ورپاته سول.
د متحده ایالاتو، چي د شلمي پیړی له شپېتو لسیزي څخه د سعودي عربستان اصلي ملاتړی هیواد دی، د اطلاع په اساس، شهزاده ګانو د ۱۹۹۰ په لسیزه کي، د سعودي عربستان له کلنیو عایداتو په سلو کي ۵ له دربار څخه د خپلو امتیازي تنخواګانو له لاري تر لاسه کول. په سعودي عربستان کي د متحده ایالاتو سفارت رپوټ ورکړ چي پر دغه برسېره د واکمني کورنی مقتدرو شهزاده ګانو د تېلو د عایداتو تر ۱۰ فیصده زیات خپلو جېبونو ته اچول. شهزاده ګانو، چي د هیواد ټول حساس دولتي پوستونه یي په کنټرول کي ول، د خارجي هیوادونو سره د راز راز قراردادونو له لاري ډېر زیات امتیازات ترلاسه کړل او تر منځ یي قصرونو جوړولو او ځمکو د پراخولو رقابتونه پیل سول. لویو شهزاده ګانو شخصي ځمکي غصب کړي او بیرته یي په لوړه بیه پر حکومت باندي وپلورلې او کوچنیو شهزاده ګانو خارجي کارکوونکو ته د کارونو د اجازه نامو د ورکولو له لاري خپل جېبونه ډکول.
له دې ناحیې څخه د سعودي عربستان د خلکو نا رضاییت دلته هلته ځرګند سو خو د مطلقه او مستبد رژیم په مقابل کي به چا څه ویلي وای او څه به ووایي. وهابي علماوو دا ټول فساد لیدی او د خلکو شکایتونه یي تر غوږونو رسېدل مګر دوی ځکه څه نه ویل چي، د دوی په عقیده، په اسلام کي د بې اتفاقی سبب کېدی او اصلي خبره خو دا وه چي هغوی پخپله هم دولتي مقامونه د لودل او مستقیما یي د سعودي رژیم له ګټو څخه خپله برخه وړله. Commins, Islam in Saudi Arabia PP 32-33
دا هغه وهابي ملایان او علماء وه چي څه موده مخکي یي حتی د مصر او عثماني ترکیي اسلامي هیوادونه د کفارو ملکونه بلل او هغوی ته یي سفر کول ناروا بلل؛ او په موټرونو کي سپرېدل او له کفري صنایعو څخه استفاده کول یي حرام بلل. له مادي امتیازاتو سره، د عقایدو په شمول، هر څه بدلېدونکي وي.

پاته لري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ